د حزب التحرير
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِي ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنٗاۚ يَعۡبُدُونَنِي لَا يُشۡرِكُونَ بِي شَيۡـٔٗاۚ وَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

یکشنبه ۱۷ ذوالحجه ۱۴۴۰هـ | ۱۸-۰۸-۲۰۱۹م | ګڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۹/۱۴

## اعلامیه مطبوعاتی

# د افغانستان د مسلمانانو وینه د سولې په پروسه کې د امتیاز اخیستو وسیله ګرځېدلې ده

د کابل په لوېديځ کې د یوه واده په مراسمو کې د چاودنې له امله نژدې سل کسان وژل شوي او سلګونه نور ټپيان شوي دي. **د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر** دغه چاودنه په تر ټولو سختو ټکو غندي او له الله سبحانه وتعالی څخه د وژل شوو لپاره جنت الفردوس، د ټپیانو لپاره بشپړه او بیړنۍ شفا او متضررو کورنیو ته د جمیل صبر غوښتنه کوي. هر چا چې دغه وحشیانه عمل ترسره کړی، هېڅ انساني او اسلامي ارزښت ته ژمن نه دي.

د دغه وحشتناک جنایت عامل د سولې په پروسه کې د سیمې او نړۍ د هېوادونو استخباراتي رقابتونه دي چې د دا ډول حیوان صفته بریدونو په واسطه غواړي د افغانستان د سولې له کیک څخه د ځان وژونکو بریدونو او چاودنو له لارې د دغه خاورې د ملکي وګړو د وینو په بیه ډېره برخه ترلاسه کړي. لکه څنګه چې د سولې د پروسې له پیل څخه تر ننه کلي، ښارونه، مسجدونه، مدرسې، مکتبونه، پوهنتونونه، د واده او غم مراسم او نور عامه ځایونه د جګړې پر لومړۍ کرښه بدل شوي دي. په سوله کې ښکېل اړخونه د افغانستان د مسلمانانو وینې تویول په دغه پروسه کې د لازیاتو امتیازونو د ترلاسه کولو وسیله ګڼي.

په داسې حال کې چې په افغانستان کې جګړه او سوله د امریکا او غرب د ګټو لپاره ده. هغوی د خپلو ګټو د تامین لپاره کله د سولې شعار ورکوي او کله هم د جګړې اورونه بلوي. لکه څنګه چې په وروستي ځل جمهور رییس اشرف غني په پوره بې شرمۍ سره امنيتي ځواکونو ته وویل: «نن ستاسو له برکته په واشنګټن او نیویارک کې چاوده نه کیږي. تاسو د نړیوال امنیت مسوولیت لرئ.» حال دا چې په دې اړه واقعیت دا دی چې د افغانستان د مسلمانانو وینه د استخباراتي رقابتونو له لارې د واشنګټن، نیویارک، لندن، پاریس، برلین، بیجنګ، مسکو، ډیلي، تهران او اسلام آباد د ګټو او امنیت لپاره تویېږي. په دې اړه په وارر- وار امریکایي مقاماتو ویلي چې د دوی لومړیتوب په افغانستان کې د امنیت او ثبات ضمانت نه، بلکې خپله د امریکا او د هغې د متحدو هېوادونو ګټې او امنیت دي.

نو دغه وحشتناک سریال هغه وخت پای ته رسېږي چې د استعمار نظامي، فکري، سیاسي، استخباراتي، اقتصادي او فرهنګي جرړې له بېخه له افغانستان څخه راوایستل شي او په هغو سوله ییزو شعارونو و نه غولېږو چې تر شا یې جګړه او ستر استعماري پروګرامونه پټ دي. دقیقاً دغه موخه هغه وخت ترلاسه کېدای شي چې خاین چارواکي له واکه لیرې او کافر یرغلګر د هغوی له ټولو ډلو ټپلو سره یو ځآی له دغه خاورې څخه وشړل شي او پر ځای یې د نبوت په طریقه راشده خلافت زموږ د ځپل شوو خلکو پر برخلیک حاکم شي.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**